مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۰/۱۲/۲۵

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښینی کندهاری

### یولسمه برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سید نورمحمد شاه پښيني کندهاري په باب څو پرله پسي ليکني خپرې کړې. ځينو دوستانو راځخه وغوښتل چي که دا موضوع یو څه پسي پراخه سي، ښايي ګټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نېستي کي مي دا څېړنه د يوه کتاب په بڼه ترتيب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري ليکني او په دې باب د نورو خپرو سوو ليکنو ترمنځ مکررات ووېني، د مهرباني له مخي دې د احسن تکرار په سترګه ورته وګوري او ما دې وبخښي.**

م. هوتک

**په پښين او کندهار کي د سيد نورمحمد شاه کندهاري کورني او ټبر:**

د بلوچستان د شاوخوا سيمو ساداتو نسبي ريکارډونه او ثبتونه د ګندمک تړون تر لاسليک وروسته ، کله چي دا سيمه د قلات په رياست پوري وتړله سوه، ددغه رياست د قاضي جلال الدين په همکاري تنظيم او ترتيب سوي دي چي د "بندوبست" په نامه يادېږي. د بندوبست ټول دفترونه او ريکارډونه د قلات رياست په مرکزي دفتر کي خوندي دي. ددي سيمي ټول حقوقي اسناد، د مځکو د حقابي مسائل، د جايدادو د حدودو تعين د همدي بندوبست له مخي تصفيه کېږي. ما (هوتک) د همدې ليکني په ليکلو او تحقيق کي د بندوبست له اسنادو څخه کار اخيستی دئ.
د بندوبست د ۱۹۰۰م ريکارډ له مخي د مرو نيکه دوه زامن پاته دي چي سيد موسی او سيد دولت نومېدل. دسيد دولت دري زامن دي چي ببګ محمد، عطا محمد او بوجم ؟ نومېدل. د ببګ محمد په ځينو اسنادو کي" بګی محمد" هم ليدل سوی دئ. " بګی" د ستر او لوی په معنا يو لقب وو چي د احمدشاهي عصر د اشرف الوزراء شاوليخان باميزي لقب هم وو.
د ببګ محمد ( بګي محمد) دري زامن سته چي سليمان شاه، زمان شاه او حسين شاه نومېدل. د پښين ټول سادات د همدغو درو نيکه ګانو اولاده ده.
د سيد سليمان شاه لس زامن پاته دي چي پنځه ئي په کندهار کي اوسېدل او پنځه ئي په پښين کي.
د کندهار اوسېدونکي ئي کندهاري ورونه او د پښين اوسېدونکي ئي د پښين ورونه نومېږي.
د کندهاري ورونو نومونه ئي دادي : سيد نور محمد شاه صدراعظم، ګل محمد شاه، احمد شاه، امان الله شاه او سيد بيګ شاه.
د پښيني ورونو نومونه ئي دادي : محمد يوسف، کريمداد، صاحبداد، رحمت الله او يارو.
د سيد نورمحمد شاه صدراعظم زوی محمد شاه نومېد، دهغه زوی عبدالرسول، د هغه زوی عبداللطيف او د هغه زامن سيد عبدالرؤف او سيد عبدالودود نومېدل چي ټول په کندهار ښار کي اوسېدل او سيد عبدالودود ئي اوس هم ژوندی دئ.
بايد ووېل سي چي تر سيد عبداللطيف پوري دا ټوله شجره د بلوچستان د قلات رياست د قاضي جلال الدين په بندوبست ريکارډ کي هم ثبت ده.

**د ببګ محمد د دوهم زوی سيد زمانشاه دري زامن پاته دي:**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په خير و لولئ

## سید تاج محمد، سید پایند شاه او سید امیر محمد.

د سید تاج محمدشاه مېرمن د سردار مهردلخان مشرقي لور وه. د همدې ځېښي له امله د سید تاج محمد شاه کورنی په کندهار ښار کې د سردار مهردلخان مشرقي له کور سره نژدې ځان ته مېنه جوړه کړه. دا کورونه اوس د کندهار ښار په دوهمه ناحیه د ملا فرح الدین اخند په کوڅه کې واقع دي.(۱۱۱)

د سید تاج محمد شاه په اولاده کې هغه کورنی چې په کندهار ښار کې اوسېدلې، یوه ئې د هیواد د مشهور خطاط او د نستعلیق خط د استاد سید عطاء محمد شاه حسیني قندهاري کورنی ده. سید عطاء محمد شاه د سیدتاج محمد زوی او د سید زمان شاه لمسی وو. مورئې لکه وړاندې چې هم اشاره ورته سوې ده،د سردار مهردل خان " مشرقي"(۱۱۲) لور وه چې " بی بی کشور سلطان" نومېدله. (۱۱۳)

د سید عطاء محمد شاه قندهاري نیکه او د سید نورمحمد شاه صدراعظم پلار سکه ورونه ول.

عبدالقدوس نجیب (ــ) د "کندهاري خطاطان" په کتاب کې کښلي دي چې سید عطاء محمد شاه د عبدالرحمن الحسیني، ملا محمد حسین، میرزا صفدر علي او محمد عمر وروسته په نستعلیق لیک کې د میر علي او میر عماد د خط په پیروی د استادئ درجې ته ورسېد. ده د امیر عبدالرحمن په امر یو کتاب په نستعلیق خط وکیښ چې د امیر ډېر خوښ سو او وي نازاوه. عزیزالدین وکیلي کښلي دي چې دغه مطلب د امیر د دربار رسمي " تاریخ نویس" په دې عبارت سره لیکلی دئ:

"اعلیحضرت امیرعبدالرحمن خان سیدعطامحمد شاه آقای فوشنجی قندهاری را که خط نستعلیقش نقطۀ سبقت برحسن خط عماد نهاده و سواد رقمش بیاض چهرۀ میر علی و عبدالرشید را چون قرس تباشیر صبح در دائرۀ طبع فلک فضل در دائرۀ افق شام جلوۀ روشنی و مزیت عام و تام از پرتو وراثت حضرت سیدالانام کرام داده و بمقابل نبشتن کتابی بامر امیر موصوف باتمام رسانیده بود مقرون عواطف پادشاهانه فرموده از انعام هزار روپیه نقد و تعیین دو هزار روپیه معاش سالانه در روز (۷) ماه جمادی الثانی سال ۱۳۱۰ هـ.ق. لوی ئیل مبذول عواطف و مقرون شرایف خسروانی گردانید."

وکیلي زیاته کړې ده چې د نستعلیق خط د یوه خطاط له پاره دغه شان عبارت د عزت او افتخار ډېره ښه وثیقه ده.(۱۱۴)

اروانباد نجیب د فکري سلجوقي له خولې لیکلي دي چې سید عطاء محمد شاه د خلیفه ملا محمد حسین له شاگردانو څخه وو. دی په دې فن کې د خپل عصر په نوابغو کې وو او بل سارې ئې نه درلود. دده په لاس د تذکرة الاولیاء دوه ټوکه خطاطي سوي دي چې د کابل په عمومي کتابخانه کې خوندي دي. اروانباد وکیلي کښلي دي چې د تذکرة الاولیاء دغه دوه ټوکه ده د کابل په شاهي کتابخانه کې کتلي ول چې په نري قلم ډېر خوشخطه او یو لاس خطاطي سوي ول.

دغه راز د کابل په بوستان سرای ( اوسنی زرنگار پارک) کې د امیر عبدالرحمن خان د مقبرې مدخل،د شهرآراء برج کتیبه، د عیدگاه مسجد کتیبه، د چهلستون منار او د امیر محمد افضل خان د مزار کتیبه دسید عطاء محمد شاه کندهاري د قلمي آثارو ډېرې ځلاندې بېلگې دي.

محمد ولي ځلمي د سید عطاء محمد شاه کندهاري په باب کښلي دي:

"دغه کورنی په اصل کې د جنوبي پښتونستان د پښین د ضلع ده، چې په تقوا، عبادت او خدای پېژندنه کې په لوی کندهار کې زیات شهرت درلود، هغه وخت چې پښین د لوی کندهار جزء او د سردار مهردلخان تر اداري لاندې وو، دغه سردار څرنگ ه چې د سیدانو او مشایخو سره زیاته علاقمندي درلوده نو د همدغه کبله ئې خپله لور د سید محمد زمان شاه زوی سید تاج محمد شاه ته په نکاح ورکړه نو ددغې دوستۍ په اثر وو چې [ سید تاج محمد شاه] له پښین څخه کندهار ته نقل مکان وکی. د سردار مهردلخان ددغې لور څخه سید عطا محمد شاه پیدا سوی دئ...."(۱۱۵)

د کندهار مشاهیر په همدغه مخ کې د فکری سلجوقي د لیکني له مخې ویل سوي دي :" مرحوم سید عطا محمد شاه از شاگردان بنام خلیفه ملا محمد حسین (۱۱۶) است که به ذهن دقیق و هوش تیز پایۀ ویش را به جائی رسانیده که از بیشتر استادان عصر خویش بهتر و نیکوتر نوشت، مرحوم سید عطا محمد شاه از نوابغ خطاطان نستعلیق است که در دو قرن اخیر هیچ آفریده به پایۀ وی نرسیده و نمی رسد. ازین استاد هنرمند قطعات و مرقعات زیادی در اطراف نقاط وطن عزیز پراگنده است و نزد همه ذوقمندان و خط شناسان محبوب و مرغوب است."

وکیلي وایي چې د کابل او کندهار په ښارو او شاوخوا کې د ۱۳۱۰هـ ق او ۱۳۳۷هـ ق کلونو ترمنځ د ودانیو او مقبرو په سلو پنځوس کتیبې د سید عطاء محمد شاه حسیني په لاس خطاطي سوي دي.

وایي چې نوموړي سیدډېر د آب و عزت او معتبرئ ژوند تېر کړی وو او په تېرو دربارو کې د یوه عالیجناب شخص په سترگه ورته کتل کېدل. ده د کابل او کندهار له مشرانو او معتبرینو سره دایمي راشه درشه درلوده او د هغوی په غوښتنه ئې ځینو مشرانو او لویانو ته پخپل ښکلي نستعلیق نیم قلمه قطعات اهدا کړي ول.

سید عطاء محمد شاه د ۱۳۴۱هـ ق = ۱۳۰۱ش کال د صفري پر شلمه د پنجشنبې په ورځ مړ سو او د کابل په سیاه سنگ کې د حضرتجي بابا زیارت ته نژدې خاورو ته وسپارل سو. (۱۱۷) خو د عزیزالدین وکیلي له لیکني سره سم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ۱۳۳۰ش کال په شاوخوا کي ئي تابوت د کابل د قلعهٔ قاضي په جنوب لويديځ اړخ کي چي د جناب سيادت پناه شاه عبدالعظيم بن سيد ميراجان بن سيد مير شعيب فوشنجي استوګنځی وو او د ارواښاد سيد خطاط د ورثې شخصي مځکي او کروندي هم دلي واقع دي، ددوی د بازماندګانو په سلا مشوره له سياه سنګ څخه رانقل او دلته ښخ سو.
د کابل په قلعهٔ قاضي کي د پښين د ساداتو ددغي بلي کورنی په باب به وروسته وړ.غيږ.و.
د سيد عطاء محمد شاه کندهاري کشر ورور سيد محمد رسول هم ښه خطاط وو او په نستعليق ليک کي ئي د خپل مشر ورور پيروي کوله. دی د محمد زمان خان ( خازن الکتب) (۱۱۸) پر ځای د امير حبيب الله خان د حضور کتابدار مقرر سو. له ۱۳۰۹ش څخه تر ۱۳۱۸ش پوري د صکوکو مطبعي مرستيال وو. بيا د کابل د عمومي مطبعي دوهم معاون وټاکل سو. سيد محمد رسول د۱۳۲۰ش کال د حوت په مياشت کي په کندهار کي مړ او همدلته ښخ سو. عمر ئي اويا کالو ته رسيدلی وو. (۱۱۹)
ارواښاد وکيلي د هنرخط در افغانستان په ۵۶مخ کي کښلي دي چي د سيدعطاء محمد شاه کندهاري مشر زوی سيد محمد فاروق د خپل وخت د نستعليق خط په خطاطانو کي وو. نستعليق ئي نسبتاً ښکلی کيښ او د خپل پلار پر لار روان وو. په لومړي سر کي ئي په مطبعه کي د خطاط په توګه د معارف وزارت کارونه پر مخ وهل. وروسته ئي بيا ددغه وزارت په اداري کارو کي مصروف پاته سو. د الفاروق کتاب يوه برخه دده په قلم خطاطي سوی ده. (۱۲۰)
د سيد عطاء محمد شاه دوهم زوی سيد محمد عثمان هم د پلار په شان نستعليق خط کيښ او ښه خطاط وو. څه موده ئي په خارجه وزارت او نورو رسمي ادارو کي ماموريتونه وکړل. د ليک نموني ئي له بده مرغه زموږ سره نسته. (۱۲۱)
د سيد عطاء محمد شاه کندهاري په مورګنی کي هم وتلي خطاطان تېر سوي دي لکه سردار مهردلخان مشرقي، سردار غلام محمد خان طرزي او زامن ئي لالا محمد زمان خان (خازن الکتب) او حاجي عبدالخالق خان او ګل محمد خان درانی او نور.



خطاط نامدار وطن جناب سید عطا محمد خان قندهاری متوفا درسال ۱۳۴۱


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بڼي پاڅوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ



د سیدعطاء محمد شاه د لیک نمونه چي خپل اکا سید پاینده ته ئي اهداء کړی ده.

**د سید عطاء محمد شاه قندهاري څلور زامن پاته سوي دي:**

سید محمد جان اغا،سید محمد فاروق اغا، سید محمد عثمان اغا، سید محمد اغا






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

سید محمد جان اغا د اعلیحضرت امیر امان الله خان له خوا د ۱۳۰۳ش کال د پغمان لویي جرگي ته هم بلل سوی وو. دده په نامه چي کوم فرمان صادر سوی دئ، زه ئي د یوه تاریخي سند په توگه راوړم چي هم به ددغي کورنۍ د نسب او ټبر او دغه راز ددوی د استوگني د ځای په باب استناد سي او هم به د اماني عصر د نورو ځېړنو له پاره په درد وخوري. دا فرمان د ۱۳۰۳ش کال د لویي جرگي ټولو غړو ته په همدې متن صادر سوی وو. متن په دې ډول دئ:

" شماره فرمان ۳۰۰
تحریر یوم پنجشنبه ۵ ثور ۱۳۰۳

سیادت انتساب سید محمد جان خان پسر سید عطامحمد شاه آقای مرحوم ساکن شهر قندهار!

چون حکمتِ بالغهٔ حضرت حکیم علی الاطلاق جلّ و تقدس شانه اساس مدنیت و ترقی و تعالی بشریت را به اتحاد و اتفاق منوط نموده و برای متحد ساختن افراد متعدد و افکار متضدّد، ابلاغ احکام آیهٔ شریفهٔ (وَشَاوِرهُم فِی الأَمرِ) همهٔ متابعان دین حنیف احمدی را صلواتُ الله و سلامه علیه، درین شاهراه فلاح و نجاح دارین امر اکید میفرماید، حضرت حق پیغامبر خود را که ( وَمَایَنطِقُ عَنِ الهَوی) در شان اوست امر میفرماید که با امتان و پیروان خودت در همه کار مشوره نمای.
لهذا این کمترین عباداللہ از بدو جلوس خود تتبع به پیروی سنتِ سنیهٔ محمدیه علیه آلاف الثناءوالتحیه، اساس سلطنت وطن عزیز خود را بمشوره وضع نموده در پایتخت عالی بخت مملکت شاهانهٔ خودم تشکیل مجلس شورای دولت که مرکّب از وکلای منتخبهٔ شما ملت و اعضای طبیعیهٔ مأمورین دولت نموده همه قوانین و نظامات مملکت داری در آنجا غور و خوض می شود و بعدالاتفاق آرا در معرض اجرا آورده می شود همچنان در مرکزهای همه ولایات و حکومتی ها تا علاقه داریها مجلس مشوره از اعضای منتخبهٔ شما ملت دایر، و همه اجراآت مطابق احکام آلهی بواسطهٔ مأمورین دولت باتفاق و مشورهٔ وکلای منتخبه اجرا می شود، باوجود اینهمه مجالس مشوره که به پیروی سنّت سنیّه در همه مملکت شاهانه اجراست چون حکومت را از ملت و ملت را از حکومت دانسته نفع و ضرر وطن عزیز خود را بهمه ملت نجیب خود مشترکاً مساوی میدانم اراده نمودم، که در هر سال یک مجلس باسم ( لوی جرگه) که مرکب باشد از علما و سادات و مشایخ و خوانین و وکلای همه اقوام بدارالسلطنهٔ کابل انعقاد یافته در همه امورات مملکت داری و پیشنهادات ترقی و تعالی و تنظیم نظامات و قوانین دولتی و تمامی سیاسیات داخاه و خارجه بحث و مذاکره نموده شود و آنچه خیر و بهبود ادارهٔ حکومت و فوز و فلاح اهالی ملت را باتفاق آرا ملاحظه نمائیم متفقاً تنظیم و بعد از اتفاق آرا متوکلاً علی الله در اجراآت آن عزم بالجزم نمائیم تا باشد که باتباع سنت قرون اول اسلام ترقیات دینی و دنیوی خودها را فائز و نائل شویم چنانچه از فحوای اعلانات علیحده مستحضر خواهید بود.
بنابران حضور والای ما چون شما را صادق و خیرخواه دولت میدانند شمولیت شما در(لوی جرگه) لازم دانسته ابلاغ میفرمائیم که سفر خرج شما از آمدن الی کابل بواسطهٔ (نائب الحکومگی آنجا) انتظام میشود بخاطر جمعی تمام الی روز هشتم ماه ذی الحجة الحرام وارد کابل شده نماز عید سعید اضحی را با همه برادران دارالسلطنهٔ خود ادا نموده در مجلس (لوی جرگه) شامل باشید در ایام توقف کابل البته مهمان اعلیحضرت ما خواهید بود و بعداز اختتام لوی جرگه خرج سفریّهٔ شما را وزارت داخله تأدیه نموده مع الخیر در مساکن خود عودت مینمائید.

(امضاء امیر امان الله ـ بخط سرخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ



د سیدمحمد جان اغا زوی سید عبدالمجید اغا نومېدی چي کور ئي د کندهار ښار په دوهمه ناحیه کي د ملا فرح الدین اخند په کوڅه کي د خطیب اخندزاده د مسجد پر مخامخ واقع وو. سید عبدالوحید اغا او سید عبدالعلي اغا ئي زامن ول چي له دواړو سره ما (هوتک) پیژندل. سید عبدالوحید اغا فهمیده او مخور سړی وو. ادبي او تاریخي مطالعه ئي درلوده. اوس وفات سوی دئ. خدای دي وبخښي.

د سید عطاء محمد شاه قندهاري د بل زوی سید محمد فاروق اغا زوی سید عبدالله نومېدئ چي د سردار محمد داود د صدارت په وخت کي داخله وزیر وو. د سید عبدالله زوی سید عبدالاله د داود خان د ریاست جمهوری په وخت کي د رئیس جمهور دوهم معاون او د مالیي وزیر وو.

د سید عطاء محمد شاه بل زوی سید محمد فاروق اغا یو وخت د معارفو په وزارت کي د تفتیش رئیس وو.
د سید زمانشاه د دوهم زوی او د سید تاج محمد د ورور سید پایند شاه زوی سید محمد اکبر نومېدی. په کندهار ښار کي اوسېدی. متدین او صوفی مشربه سړی وو. وایي چي له امیر حبیب الله سره ئي کتلي وه خو د هغه جاګیر او منصب ئي نه وو منلی. قبر ئي د کندهار ښار د حضرتجي زیارت ته نژدې پروت وو. پر دغه سیمه اوس ودانی جوړي سوي او هدیرې ئي لاندي سوي دي.

د سید محمد اکبر اغا زوی سید غلام نبي اغا نومېد. کور ئي د کندهار ښار په کاروان کوڅه وو. د کندهار په انحصاراتو کي ئي د مدیر په توګه کار کاوه. د پاکنفسی شهرت ئي تولو منلی وو. دده یو زوی سید محمد امین پالیال نومېد چي زما (هوتک) ټولګیوال او صمیمي دوست دئ. پالیال صاحب د افغانستان د علومو اکاډمی په پښتو ټولنه کي غړی وو. څه موده ئي د آریانا مجلي د چلوونکي او مرستیال په توګه کار کړی دئ. د حدودالعالم کتاب چي د مرحوم پوهاند میر حسین شاه په سریزه او څېړنه خپور سوی دئ او د اروابښاد علامه رشاد د" ځمکنو میا عمر" کتاب د ښاغلي پالیال په اهتمام تهیه سوي دي. پالیال صاحب اوس په کوټه کي اوسي.

د سید غلام نبي اغا نور زامن په پېښین کي ژوند کوي او یوه پراخه کورنی ئي جوړه کړې ده.

## د یولسمې برخې لمنلیکونه:

۱۱۱ـ د سید تاج محمد اغا له دغې مېرمنې څخه پر زامنو سربېره څلور لوڼې پاته دي چې یوه ئې په سید محمد اکبر اغا (شنغرۍ) ولد سید پایندشاه واده وه. بي بي قریشو نومېده. د سید غلام نبي اغا مور وه. بله ئې په سید عبدل اغا ( د سلیمان نیکه له خاندانه) واده وه. بي بي ایسو نومېده. د سید محمد ناصر او سید محمد رحیم اغا مور وه. دریمه ئې په سید راز محمد اغا (ښادیزی) واده وه. بي بي سارا ( بي بي کوعمه) نومېدله. د سید عبدالرؤف اغا مور وه. څلرمه ئې هم په شنغریو واده وه. سردار عبدالله جان طرزي د کندهار ئې د خاله زوی وو.
له دوهمې هراتۍ مېرمنې څخه ئې یوه لور بي بي هاجره نومېده د سید محمد عظیم هراتي مېرمن او د سید محمد عثمان هراتي مور وه .( دغه برخه نور تحقیق غواړي).
۱۱۲ـ سردارمهردل خان مشرقي (۱۲۱۲ـ ۱۲۷۱هـ ق) د سردار پاینده محمد خان زوی او په کندهاري سردارانو( شیردل خان، کندل خان، پردل خان، رحمدل خان ، مهردلخان) کشر ورور وو. دی عالم، شاعر او متصوف وو. په فارسي او پښتو ئې شعر وایه. فارسي دېوان ئې ما (م .هوتک) چاپ ته تیار کړی خو لا چاپ سوی نه دئ. ده په کندهار کي یو ادبستان درلود چې د هغه وخت شاعران او ادیبان ( میرزا حنان بارکزی، حاجي جمعه بارکزی،حاجي عبدالله محزون، ملا میران، صدیق اخندزاده هوتک، سردار غلام محمد خان طرزي او نور) پکښې شامل ول.
۱۱۳ـ د سردار مهردل خان بله لور" مروارید بیگم" په سردار حاجي گل محمد خان بن سردار رحمدل خان واده وه. دریمه لورئي د سردار رحمدل خان په دوهم زوی سردار محمد علم خان واده وه. دی د محمود طرزي اکا (تره) وو او د ایران پر لار غلو وواژه. څلرمه لور ئې په سردار محمد شریف خان واده وه چې د امیر دوست محمد خان زوی وو.
دا درې سره کسان ( گل محمد خان، محمد عالم خان او محمد شریف خان) د سید تاج محمد شاه باجه گان ول.
۱۱۴ـ هنر خط در افغانستان ...، صـ ۳۹
۱۱۵ـ د کندهار مشاهیر، ۲۹۷مخ، چاپ ۱۳۸۷ش
۱۱۶ـ خلیفه ملا محمد حسین سلجوقي د عبدالاحد زوی او په " خلیفه" سره مشهور وو. په خطاطی کي د عبدالرحمن هروي شاگرد وو. خلیفه له خپل پلار څخه چې د خپل وخت له مشایخو څخه وو،عقلي او نقلي علوم لوستي ول او د تدریس حلقه ئې درلوده. له زیاتو کلونو تدریس وروسته ئې گوښه نشیني غوره کړه او د هرات تر ښار دباندي ئې په یوه کلا کي د انزوا ژوند کاوه. ( م. هـ)
۱۱۷ـ په کندهار کي د سید تاج محمد شاه اغا د کورنۍ پلرنۍ هدیره د حضرتجي بابا د زیارت په جنوب لویدیځ اړخ کي د ماشک سرای ته نږدې واقع وه. د ماشک سرای وروسته د انحصاراتو دفتر سو او بیا د محمود طرزي منځنۍ ښوونځۍ پکښې تاسیس سو. اوس ( ۱۳۹۹ش) پر دغه ځای څو منزله ودانۍ جوړي سوي دي.
۱۱۸ـ محمد زمان خان (خازن الکتب)د سردار غلام محمد خان طرزي دوهم زوی وو. دی پر امیر حبیب الله خان ډېر گران وو او" لالا" ئې باله. د محمد زمان خان مور د سردار مهردلخان مشرقي لور وه . د سید عطامحمد شاه خطاط مور او د لالا محمد زمان خان مور سره خوندي وې. لالا د امیر حبیب الله خان د شاهي کتابتون ناظم وو ځکه ئې له نامه سره ( خازن الکتب) لقب لیکل کېده. لالا محمدزمان د خپل پلار دېوان خطاطي کړی وو چې په ۱۳۱۱هـ ق کال د محرم الحرام پر ۲۷مه د کراچي په فیض محمدي چاپخانه کي چاپ سوی دئ.
۱۱۹ـ نجیب، عبدالقدوس، کندهاري خطاطان، ۵۱ ـ ۵۲ مخونه
۱۲۰ ـ الفاروق د علیگډهـ دارالعلوم د پروفیسور او د هند د ندوة العلماء مجلس د صدر علامه شبلی نعمانی ( ۱۲۷۴ـ ۱۳۳۲هـق) اثر دئ چې له اردو څخه ئې فارسي ته د ترجمې کار د اعلیحضرت محمد نادر شاه د خور په قلم په کابل کي را پیل سوی وو. خو دغه دانشمنده مېرمن د ترجمې تر بشپړېدو مخکي وفات سوه او د کتاب پاته برخه د دغې مېرمنې د پلار سردار محمد یوسف خان په امر مولانا نجف علی جلالپوري د حبیبیې مکتب د فارسي ښوونکي قاري عبدالله خان ( وروسته ملک الشعراء)تر نظر لاندي ترجمه کړه. الفاروق په ۱۳۱۱ش = ۱۳۵۱هـ ق کال چاپ سوی دئ. (م.هـ)
۱۲۱ـ پورتنی اثر، صـ ۵۷

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ